






# Orientation to Ontario

# د لویانو ازار یا ځورونه

زاړه خلک باید اکثره د کورنۍ پر غړو او پالوونکو تکیه وکړي. د لویانو ازار یا ځورونه  هغه ده چې یو زوړ کس سره د هغه یا هغې د نږدې  کس یا پالوونکي له لوریبد چلند یا بېپروایي کېږي. د کورنۍ غړي یا د کورنۍ څخه بهر خلک کېدای شي د زړو خلکو د ازار او ځورونې سبب شي. د لویانو ازار یا ځورونه کیدای شي فزیکي، عاطفي، جنسي یا مالي وي او یا یې په اړه غفلت شوی وي.

په فزیکي ځورونه کې هر  هغه عمل شامل دی چې د زیان یا مصیبت سبب ګرځي:

- په څپېړه وهل، وهل، ټېل وهل، ټکان ورکول
- غیر ضروري فزیکي محدودیتونه
- د درملو بندول یا چا ته ډېر درمل ورکول
- خواړه پرې بندول یا سم خواړه نه ورکول
- په زور خواړه یا درمل ورکول

عاطفي یا رواني ازار او ځورونه د چلند ډېر ډولونه لري:

- د سمولو په بهانه هغه ګواښل یا ډارول.
- یو څوک د خپلو ملګرو یا د کورنۍ غړو لیدو ته نه پرېښودل.
- د پرېکړې کولو یا د ماشومانو په څېر چلند کولو اجازه نه ورکول.
- یو څوک په خارجولو یا د زړو ځای ته په وړلو ګواښل
- د هغه چا لاسوهنه چې د حافظې له لاسه ورکولو یا ډیمنشیا سره مخ وي.

جنسي تیري هم د لویانو د ازار یو ډول دی. په جنسي تیري کې هر ډول ناغوښتل شوې جنسي پرمختګ یا چلند شامل دی. د لویانو د ساتنې په مرکزونو کې زاړه خلک نه شي کولی په قانوني توګه د زړو د پاملرنې په مرکز کې له کارکوونکو  سره جنسي فعالیت ته رضایت وښیي.

## مالي ازار او ځورونه

مالي ځورونه یا ناوړه ګټه اخیستنه د لویانو د ازار یو له خورا عامو  ډولونو څخه دی او بېلابېل  عملونه یا چلندونه په کې شاملېدی شي؛ لکه:

- زاړه کس ته د خپلې سرمایې یا فنډ د کنټرولو اجازه نه ورکول.
- زوړ کس په دې مجبورول چې تاسو ته پیسې درکړي.
- له اجازې پرته د زاړه سړي توکي  پلورل
- د لویانو یا زړو خلکو  هغه سرمایه له دوی منع کول یا ترې ناوړه ګټه اخیستل چې تاسو یې ورته مدیریت کوئ.
- یو څوک دې ته اړ کول چې خپله اراده په تهدیدونو یا ډارولو سره بدله کړي
- د چا په نوم جعلي اسناد جوړول.

غفلت د لویانو د ازار یا ځورونې یوه بله عامه بڼه ده او د فزیکي او عاطفي یا رواني ځورونې په کې شامل دي. کله چې پالوونکي د زړو خلکو فزیکي، طبي یا رواني اړتیاوې نه پوره کوي، دوی د لویانو د پالنې په برخه کې غفلت کوي او هغوی ازاروي.

څرنګه چې زاړه خلک په کورنۍ او پالونکو تکیه کوي، دوی ډېری وختونه د ځورونو او ازار په اړه له راپورو ورکولو وېره لري.

## مرستی په لټه


د لویانو د ځورونې یا ازار قربانیان کولی شي د مرستې لهپاره د جدي خوندیتوب کرښې ته زنګ ووهي - 1-866-299-1011.

که تاسو د لویانو د ازار او ځورونې شک لرئ کولی شئ پولیسو ته راپور ورکړئ. پولیس به پلټنه کوي او قربانیانو ته به د مرستې وړاندیز وکړي. خو دا چې د لویانو د ازار او ځورونې قربانیان لویان دي، دوی کولی شي دا مرسته رد کړي.

د لویانو د ناوړه د ځورونې راپور ورکول د قانون له مخې اړین نه دي، مګر دا چې قرباني په د لویانو د پالنې په مرکز یا نورو روغتیایی مرکزونو کې ژوند کوي.

1-855-626-0002
https://settlement.org/o2o





Funded by / Financé par

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada
Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada